# سوداګري

نشریه اقتصادی ،اجتماعی ،فرهنگی وعلمی وزارت تجارت وصنایع

لومړی کال دوهمه گڼه : ۱۳۹۱ (قوس،جدی)






د ۲۰۱۴ کال په هکله اندیښني تر ډیره مبالغه امیزه دي




تلاش برای عضویت در سازمان تجارتی جهان



بازار آزاد میتواند حل مشکلات جوامع دیموکراتیک باشد

## Vision.

*"A socially responsible market economy in Afghanistan, in which sustainable and equitable growth is private sector led and leads to increased employment, higher living standards and the reduction of poverty, in which competition operates for the benefit of all."*

## دیدگاه وزارت تجارت.

" یک اقتصاد بازار که از نظر اجتماعی مسؤل بوده و در آن رشد پایدار و متوازن اقتصادی توسط سکتور خصوصی رهبری گردیده و باعث افزایش زمینه اشتغال، بهبود و ارتقا سطح زندگی مردم و کاهش فقر در کشور گردد، و رقابت در بازار به نفع همه گان باشد"

## Mission.

*"To encourage growth through the development of appropriate policies and regulations, and the facilitation of private sector production and trade."*

## ماموریت وزارت تجارت.

"ماموریت وزارت تجارت و صنایع تشویق رشد از طریق ایجاد مقررات و پالیسی های مناسب و تسهیل تولیدات و تجارت سکتور خصوصی، میباشد."

# دافغانستان

# دسوداګری اوصنایعو وزارت

صاحب امتیاز :وزارت تجارت وصنایع

مدیر مسؤول :حمیدالله عظیمي

هئیت تحریر :

نصیراحمد زاخیل

سباوون صادق

محمد کمال افغان

بربنالیک: moci.pr@gmail.com

ویب پانه: www.moci.gov.af

د اړیکي شمیره: ۰۷۵۲۰۹۱۰۹۵

پست بکس:۱۰۰۴

آدرس: د سوداګری او صنایعو وزارت- د دارالامان سرک، دریمه کارته/ کابل افغانستان

مجله ( سودا ګري ) که ارګان نشراتی وزارت تجارت و صنایع افغانستان میباشد قدم است در راستائ دسترسی مردم به اطلاعات و نهادینه شدن مفهوم واقعی دموکراسی.

لذا از شما نویسنده ګان، فرهنګیان، صاحب نظران و اندیشمندان خواهشمندیم تا با ارسال مطالب علمی، ادبی، اجتماعی و ذوقی خویش در غنامند سازی محتوای نشراتی مجله ما را همکاری نموده افتخار بخشید.

سوداګري مجله یوازې د خپلو خپرو شویو لیکنو ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوالو د نظرونو څرګندویې دي، زموږ توافق ور سره شرط نه دی.

بسمه تعالی

## په دې ګڼه کې یې لولئ


سرمقاله ............................. ۱

- د دوه زره څورالسم کال په هکله اندېښې تر ډېره مبالغه امیزه دي............ ۳
- کنفرانس کمیته اپتیکا برای رفع مشکلات ترانزیتي برګزار ګردید...............۵
- دسویلي اسیا دهېوادونو دهمکارۍ سازمان (سارک ) پېژندنه............۷
- تلاش به دست آوردن عضویت سازمان تجارت جهانی است..................۱۳
- جسله محوه خشونت علیه زن در وزارت تجارت دایر ګردید..................۱۶
- په افغانستان کې د غالیو صنعت....۱۸
- څېړنه سوداګری دودی په حال........۲۰
- بازار ازاد میتواند حل مشکلات جوامع دیموکراتیک باشد...................۲۱
- د میو بازار موندنه...............۲۵
- تجلیل از روز جهانی رقابت در وزارت تجارت وصنایع......................۲۹
- کلیوالي صنایع......................۳۰
- انترنت بستر جدید تجارت............۳۴
- روش های جذب وتشویق سرمایه ګزاري در افغانستان..........................۳۷
- فابریکه افغان پلخمري.............۳۹
- هنر او ادب ........................ ۴۱
- د سوداګری د قانون عمومي احکام.۴۳

پداسي حال کې چې افغانستان په تیرو څو لسیزو کې هم په کورني او هم په بهرني سیاست کې طلایی فرصتونه له لاسه ورکړی خو داسي ښکاری چې د دولت وروستی هڅې هم تر ډیره هیله وونکي دي له یوي خوا له بېلابېلو هیوادونو سره د ستراتیژیکو همکاریو د سندونو لاسلیکول او له بلې خوا د سولې په لور ځیني عملی ګامونه داسي بریښی چې سره لدې چې پوره ناوخته دی خو بیا هم خلکو ته هیله ورکولای شي.

نن الحمدالله حالاتو د ښه توب په لور ژور بدلون کړی او د هیواد په ټولو برخو کې د پرمختګ نخښي لیدل کیږي خوبیا هم په ډیر خواشنی وینو چې ملت خو په ځانګړی توګه ملي سوداګر کور دننه او دباندې له تجارتي سرکاري کړیو سره یا په بهرني سطح د یو شمیر نږدې ګاونډي هیوادونو سره زیاتي ستونزي لري نو د دغو ستونزو د هواري لپاره افغان ولسمشر حامد کرزي د سوداګری د پراخوالي او په هیواد کې د پانګې اچوني لپاره د هندوستان سره یو شمیر تړونونه لاسلیک کړل .

په افغانستان کې د بې روز ګاری د له منځه وړ، د بازار د پیاوړی کولو او د هیواد د منرالي سرچینو رایستني لپاره کورني او بهرني پانګوني ته اړتیا لیدل کیږي

افغان حکومت په ځانګړی ډول د سوداګریو او صنایعو وزارت دغې موخي ته د رسیدو لپاره خپلي هڅې ګړندی کړي دي.

د ۱۳۹۱ کال د لړم ۲۰مه د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهور رئیس حامد کرزي د کابیني له یو شمیر وزیرانو سره د هند د صنعت کارانو د کنفدراسیون له غړیو سره چې د صنایعو او د سوداګری د خونو له اتحادیې او د هند د صنایعو او سوداګری د خونو د پیوستون له ټولنې څخه جوړ دی، لیدنه وکړه

جلالتماب محترم حامدي کرزي د افغانستان اهمیت او په هېواد کې د پانګې اچوني ښو زمینو ته په پاملرني سره وویل: افغانستان د منرالي سرچینو بډای هېواد دی، دغه هېواد د ګازو، تیلو او نورو نه پیداکېدونکو قیمتي موادو چې صنایع ورته اړتیا لري، لرونکی دی، هندوستان په ډېر ښه موقف کې قرار لري چې د افغانستان له بډایو سرچینو څخه د خپل انکشاف لپاره ګټه پورته کړي.

هندي پانګوالو په افغانستان کې د هندي پانګوالو د پانګې اچوني په اړه د حامدکرزي د وړاندیز هرکلی وکړ، د دواړو هېوادونو د اقتصادي همکاریو د پراختیا او پیاوړتیا لپاره یې د افغان ـ هند د سوداګرۍ د یوې ټولنې د جوړېدو غوښتنه وکړه.

هندوستان په سیمه کې د څواکمن هېواد په توګه له افغانستان سره د کلک اقتصادی همکار په توګه پاتې شوی او تر نن ورځې پورې یې له افغانستان سره ګڼې اقتصادی مرستې هم کړې دی چې د مرستو اندازه یې لدې وروستیو مرستو سره کابو یو زر او پنځه سوه میلیونو ډالرو ته رسیږی.

د افغانستان په بیارغونه کې د هندوستان ونډه او دغه راز په اوږدمهالو او د افغانستان لپاره په ډېرو مهمو پروژو کې د هندوستان مرسته هغه ټکی دی چې د افغانانو لپاره یې د هندوستان مرستې او ملګری اغیزمني او مهمې کړې دی.

پدې سربېره د افغان محصلینو لپاره د لوړو زده کړو د بورسیو برابرول، د افغانستان د بیارغوني له وجهی صندوق سره مرسته، د مطبوعاتو، هوایی چلند او نورو ګڼو برخو په اړه د هند او افغانستان تر منځ هوکړه لیکونه هم پدې اړیکو کې د پام وړ دی.

د سوداګریو او صنایعو وزارت په خپل وروستیو هڅو کې هندي پانګوال هڅولي څو په افغانستان کې پانګه ونه وکړي همداراز تاکل شوی افغانستان په راتلوونکي کې د کاناډا، بریتانې، سنګاپور او ترکمنستان سره په اقتصادي او سوداګریزو برخو کې یو شمیر تړونونه لاسلیک کړي .

افغان حکومت خو په ځانګړی توګه د سوداګریو وزارت په دې بسنه نه ده کړی په دې وروستیو کې د دغه وزارت چارواکو هڅې پیل کړي څو تر دوه زره څوارلسم کال پورې د نړیوال تجارتي سازمان غړیتوب تر لاسه کړي

ددغه سازمان د غړیتوب په ترلاسه کولو سره د افغانستان او د سیمې هیوادونو ترمنځ ګڼ شمیر ترانزیتي ستونزې حل او پر افغاني موټرو به  غیر موجه فیس نه اخستل کیږي او نه به هم نا مناسبه اقدام د دوی په وړاندې ترسره شي.

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د افغانستان د اقتصادي پرمختګ لپاره یو شمیر کره ګامونه اخستي او زیار باسي ترڅو پاتې موخې هم ترلاس کړي

**د دوه زره څوارلسم کال په هکله اندېښنې تر ډېره بریده مبالغه امیزه دي**

پروفیسور دوکتور انوارالحق احدي

نوي ډیلي ته د جلالتماب ولسمشر حامد کرزي سفر او هلته د هوکړه لیکونو لاسلیک کول داسې هڅې دی چې له مخې یې افغان مشرتابه غواړي د بهرني پانګونې له لارې خپل اقتصاد پر پښو ودروي.

افغان ولسمشر حامد کرزي په نوي ډیلي کې د هند له لومړي وزیر سره د خبرو  پر مهال د هند د لا پراخې پانګونې غوښتنه کړې ده.

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو وزیر دوکتور انوارالحق احدي له بي بي سي سره په  ځانګړې مرکه کې ویلي، چې له هند سره څلور هوکړه لیکونه لاسلیک شوي، چې د نوي ډیلي او کابل ترمنځ د پخواني ستراتیژیک تړون برخه جوړوي.

((په څلورو ساحو کې هوکړه لیکونه  لاسلیک شوې یو د ډبرو سکرو په برخه کې، بله موافقتنامه د سل ملیونو ډالرو په ارزښت چې افغانستان ته ورکول کېږي او په بیلابیلو برخو کې به وکارول شي




البته یوه عمومي موافقت نامه چې افغانستان پخوا له هند سره کړې ستراټېژیک موافقت نامه ده او د هغه ستراتیږیک تړون په چوکاټ کې له هندوستان سره په فرهنګي، سوداګریز ،اقتصادي او امنیتي برخو کې به زموږ اړیکې نورې هم پیاوړې شي .))

پوښتنه : په کومو نورو برخو کې هندي پانګوال پانګونه کولای شي او تاسو کومې برخې ورته په ګوته کړې دي؟

(( یو  شمېر هندي متشبثین ممبیي ته راغلي وو او د هغوی سره  په بیلا بیلو برخو خبرې شوي د افغانستان د سوداګریو او صنایعو وزارت اوولس ساحې مطالعه کړې چې ۷ ساحې یې د صادراتو لپاره او ۱۰ نورې ساحې یې د صنایعو د وارداتو د تعویض لپاره مشخص شوي دي.

د افغانستان بازار هندي پانګوالو  ته چمتو دی ترڅو دوی راشي او په یادو ساحو کې پانګونه وکړي خو تر ډېره دهندي پانګوالو لیوالتیا د معادن په برخه کې ده.))

پوښتنه : موږ د سفر په پیل کې د هندي سوداګرو سره خبرې کړې وې او هغوی د ۲۰۱۴ کال وروسته د افغانستان د راتلونکي په هکله اندیښنه ښودلې وه ایا ستاسو سره په خبرو کې هغوی په مشخص ډول خپلې اندیښنې څرګندې کړې؟

((د دوه زره څوارلسم کال په هکله اندیښنې تر ډېره بریده مبالغه امېزه دي ، افغانستان په تیرو څو لسیزو کې ستونزې درلودې نه یوازې افغانستان، بلکه د سیمې نور هېوادونه هم له ستونزو سره لاس او ګرېوان ول او له دې وروسته به هم ستونزې موجودې وې خو د دغه ستونزو سره سره انشاالله د امنیت د انتقال پروسه له بهرنیو ځواکونو څخه افغان لوري ته د بشپړېدو په حال کې ده ،سیاسي انتقال به هم په بریا سره بشپړه شي ،په اقتصادي برخه کې هم د نړیوالو کافي مرستې موجودې دي نو زه د دوه زره څوارلسم کال وروسته زیاته اندیښنه نه لرم.))

پوښتنه : د افغان حکومت له لوري د هندي پانګوالو بیا بیا هڅول په څه مانا دي ؟

((دا عمومي حالت دی هغه هېوادونه چې هلته پانګونه عامه ده بیا هم دوی پانګوال هڅوي دا د حکومت دنده ده، چې پانګوال وهڅوي، حتی د دې لپاره یوه اداره موجوده وي، موږ یې هم لرو چې پانګوال وهڅو ، ترکیه یې هم لري ، په امریکا کې د ایالتونو والیان نورو هېوادونو ته ځي، څو پانګوال وهڅوي او د دوی په ایالتونو کې پانګونه وکړي ځکه سرمایه ګذاري په خپل ذات کې د هېواد اقتصاد ښه کوي نو په دې اساس که وضعیت ډېر ښه هم وي باید پانګوال وهڅول شي چې پانګونه وکړي.

زموږ هلې ځلې د دې لپاره نه دي، چې موږ وارخطا یا اندیښنه لرو ، موږ راتلونکي ته خوشبینه یو او ښه چانسونه وینو او هرڅوک چې دلته پانګونه وکړي ګټه یې ډېره ده، تجربې هم دا ثابته کړې چې په افغانستان کې د پانګوالو د ګټې کچه ډېره لوړه وي نو ځکه موږ له بېلابېلو پانګوالو سره دا موضوع شریکه کړې او دوی مو پانګونې ته هڅولې دي.)

پوښتنه : داسې ویل کېږي، چې امنیتي اندیښنې د دې لامل شوي، چې هندي پانګوال پانګونې ته زړه نه ښه کوي او افغان حکومت بیا بیا د دوی د تشویقولو هڅې کوي؟

((طبعا یو څه ویره به وي، هغه اندیښنه او ویره چې له افغانانو سره ده هغه به د بهرنیانو سره هم وي خو د دې ټولو سره سره ګټه هم ډېره ده د بېلګې په ډول په نورو هېوادونو کې په نورمال ډول د لس نه تر پنځه لس سلنې پورې د ګټې تمه وي خو په افغانستان کې د دېرش څخه تر پنځوس سلنې پورې ډېر په اسانی سره ګټه اخستلای شي.))

پوښتنه : وزیر صاحب یوه بله مهمه موضوع چې هر کله د افغانستان او هندوستان په اړیکو کې راپورته کېږي د پاکستان حساسیتونه دي نو کله چې د هند سره دغه راز تړونونه لاسلیک کېږي د کارپوهانو په اند د پاکستان حساسیتونه هم ورسره راپارول کېږي نو ایا تاسو په دغه تړونونو کې د پاکستان حساسیتونه په پام کې نیولي دي ؟

((موږ طبعا پاکستاني پانګوال هم هڅولي چې راشي او دلته پانګونه وکړي دروازې د دوی پر مخ هم خلاصې دي، تر ټولو زیاتې او پیاوړې اقتصادي او سوداګریزې اړیکې مو له پاکستان سره دي د نورو بهرنیو هېوادونو په پرتله له پاکستان سره مو صادرات او هم واردات زیات دي خو دا په دې مانا نه ده، چې موږ نباید له نورو هېوادونو سره سوداګریزې اړیکې ولرو او یاهم دغه اړیکي پرې کړو، دا یوه غیر مشروع غوښتنه ده هر هېواد حق لري، چې د نړۍ له ټولو هېوادونو سره اړیکې ولري.))

## کنفرانس کمیته اپتیکا برای رفع مشکلات ترانزیتی برگزار گردید

کمیته اپتیکا نشست اش را به جهت رفع مشکلات ترانزیتی برگزار کرد، که از طرف وزارت تجارت و صنایع افغانستان معین امور تجارتی و از طرف پاکستان سکرتر وزارت تجارت پاکستان و تعداد دیگری از نماینده گان وزارت خانه های هر دو کشور درین نشست وجود داشتند.

دوکتور انوارالحق احدی وزیر تجارت و صنایع افغانستان طی یک کنفرانس مطبوعاتی، دست آورد های کمیته اپتیکا را با رسانه ها شریک ساخته افزود، حدود ۷۰ فیصد مشکلات ترانزیتی میان افغانستان و پاکستان درین نشست حل گردیده است و متباقی به زودی حل خواهد گردید.

درین نشست روی مشکلات ترانزیتی بحث صورت گرفته و جلالتماب انوارالحق احدي بر موارد ذیل تاکید کرد.

1 بعد از بحث ها، هر دو جانب موافقه کردند، که لاری های افغاني تا بندر واگه بروند.

2 مشکل بیمه لاری اموال افغانی بود، که به افغانستان از کراچی میامد، اما حالا یک مقدار پول به شکل بیمه در بندر کراچی میمانند بعداً که داخل تورخم شده فورم G1 خانه پوری کرده و دوباره پول شان را بدست میاورند، درین نشت برای برطرف سازی این مشکل تاکید صورت گرفته است، تا اعتماد میان هر دو طرف زیاد شود.

3 در گذشته، زمانی که یک تاجر 5 موتر مال را وارد افغانستان میکرد، باید تمامی موتر هایش در بندر میرسید بعداً



اجازه داده میشد تا داخل افغانستان شود، ولی حال این مشکل هم برطرف شده است و هر موتر زمانی که به بندر میرسد اجازه ورود به افغانستان برایش داده میشود.

4 در بندر کراچی کمیته مشترک تجاری میان افغانستان و پاکستان ساخته میشود و درین کمیته نمایندگان هر دو کشور وجود خواهد داشت، تا برای حل مشکلات تاجران وقتآ فوقتآ اقدامات لازم را انجام دهند.

5 در گذشته، بعضی اموال که به افغانستان وارد می شد، بار اول در کراچی از یک موتر به موتر دیگر کانتینر میشدند و بعدآ به افغانستان وارد میشد، اما فعلا این مشکل هم حل شده و اموال به همان شکل به افغانستان وارد میشود.

6 در بعضی موارد، تاجران افغان ازاینکه اموال شان به غارت برده می شد، شکایت داشتند اما طرف مقابل وعده داده است، که بعد ازین تدابیر امنیتی گرفته خواهد شد.

7 همچنان بر ایجاد کمیته دایمی بین گمرکات، که روسای دو طرف گمرکات برای حل مشکلات وقتا فوقتا دیدار داشته باشند، تعهد صورت گرفت تا مشکلات در تمامی بنادر میان افغانستان و پاکستان حل گردد.

8 وسایل استخراج معادن که از چین به افغانستان وارد می شد و در پاکستان توقف داده شده بود، مقامات پاکستاني بر رهایی ان وعده داده اند.

داکتر انوارالحق احدی افزود، دو سال قبل موافقت نامه را، که افغانستان و پاکستان به منظور ترانزیت به امضأ رسانیده بود، بر اساس ان این کمیته موظف است، تا مشکلات دو طرف را در مسایل ترانزیتی حل کند.

داکتر احدی، امیدواری نشان داد، تا ترانزیت لاری افغانی از واگه هم عبور کند و مستقیم به بازار های هند برسند تا از بارگیری مجدد تاجران، که اموال صادراتی شان را چندین بار، بارگیری میکنند رهایی یابند و اموال شان به شکل بهتر در وقت کم تر به بازار هند برسد.

اقای احدی افزود، دو مشکل تا حال حل نشده، یکی موتر های لاری افغانی مستقیم به بندر کراچی رفته نمیتوانند و دیگر مشکل اخذ بیمه است، که انشاالله این مشکل هم در اینده حل خواهد شد.

جلالتماب وزیر صاحب افزود، موترهای که مستقیم به بندر واگه میروند، از طرف وزارت ترانسپورت یک تضمین خط اخذ میکند و دولت افغانستان مسؤلیت برگشت ان را بدوش داشته و این تضمین خط برای مدت 30 روز مدار اعتبار را دارد.




دسویلي اسیا د هېوادونو دهمکارۍ سازمان (سارک ) پېژندنه:

لیکوال :نصیراحمد زاخیل

Association for Regional South Asia Cooperation

سریزه: سارک یعنی دسویلی اسیا دهېوادنو دسیمه ایزې همکارۍ اتحادیه د اتو هېوادونو یو اقتصادي اوسیاسي سازمان دی، چې د نفوس له پلوه د شاوخوا (۱،۵) ملیا رده وګړو په لرولو سره، دنړۍ دلویو سیمه ایزو سازمانونو څخه شمېرل کېږي.

د ۱۹۷۰ م کال په وروستیو کې دبنګله دیش ولسمشر ضیاءالرحمن د سویلي اسیا د سوداګرۍ د بلاک د جوړښت وړاندیز وکړ چې د لومړي ځل لپاره د ۱۹۸۱ م کال په اپریل کې د سویلي اسیا د اوو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو د دې اتحادیې د رامنځته کولو په هکله دسریلانکا په پلازمېنه کولمبو کې سره راټول شول او د۱۹۸۱ کال په اګست کې د سویلي اسیا هېوادونو دهمکاریو کمېټه تاسیس شوه.

د سویلي اسیا هېوادونو د همکارۍ اعلامیه د سارک د بهرنیو چارو د وزیرانو له لوري په کال ۱۹۸۳م کې په نوي ډیلي کې ومنل شوه .

د سویلي اسیا دهمکارۍ سیمه ایز سازمان، وروسته له هغه چې، د دې سازمان اساسنامه د بنګله دیش، بوتان، هند، مالدیو، نیپال، پاکستان، اوسریلانکا هېوادونو د مشرانو له خوا اعلان شوه په رسمي ډول د ۱۹۸۵م کال د دسمبر په ۸مه چې د۱۳۶۴ هجري لمریز کال سره سمون خوري تاسیس شو.
افغانستان د هند په غوښتنه د ۲۰۰۵ م کال د نومبر په ۳۱ مه د ناظر غړي په حیث په دغه سازمان کې داخل شو او د۲۰۰۷ م کال د اپریل په دریمه نېټه په رسمي ډول د دغه سازمان غړی شو، چې د افغانستان په ورننوتو سره د دې سازمان د غړو شمېر اتو هېوادونو ته ورسید، چې په دې توګه په اوسني وخت کې د سارک ټولنه اته (۸ ) غړي او نهه (۹) څارونکي (Observers) لري.

د ۲۰۰۶ کال په اپریل میاشت کې امریکا او سویلي کوریا هم په دغه سازمان کې د ناظرغړي په حیث خپل وړاندیز وړاندې کړ. همدارنګه اروپایي ټولنې هم د ۲۰۰۶ م کال په جولای میاشت کې د دې سازمان د ناظر غړیتوب لپاره خپله لېوالتیا وښوده او ایران د ۲۰۰۷ م کال په مارچ میاشت کې د ناظر غړیتوب په هکله خپل وړاندیز په رسمي ډول وړاندې کړ، چې اوس د سارک څارونکي هېوادونه (استرالیا، چین، ایران، جاپان، مراکش، برما، سویلي کوریا، اروپایي ټولنه او د امریکا متحده ایالات) دي. د یادولو وړ ده، چې ځینې هېوادونه لکه چین، ایران او برما د سارک

ټولنې د غړيتوب لېواله دي. همدارنګه ځينې هېوادونه، لکه روسيه او اندونيزيا غواړي، چې د سارک ټولنې د څارونکو دنده په غاړه واخلي.

په ټوليزه توګه دغړو هېوادنو ترمنځ  په لاندې برخو کې همکاري شتون لري.

١- د کرهنې او د کليو د پراختيا په هکله همکاري.

٢- رسنيزو اړيکو، علم، ټکنالوجي او هواپېژندنې په هکله همکاري.

٣- په روغتيايې چارو، ټولنيز فعاليتونو او د بې وزلۍ پر وړاندې مبارزه.

۴- حمل او نقل، د پوستي خدمتونو، سپورټ، هنر او کلتوري موضوعاتو په هکله همکاري.

۵- د انساني سرچينو(بشري منابع ) د ظرفيت د لوړتيا په برخه کې هر اړخيزه همکاري.

په دې ورستيو کلونو کې ځينې نور د همکارۍ او هماهنګۍ موارد په پورته پنځو برخو کي اضافه شول، چې وروسته به ورڅخه يادونه وکړو.



**دسارک اهداف(موخې) :**

د سارک ټولنې لومړنۍ او اساسي موخې د غړیو هېوادونو تر منځ د همغږۍ او ګډ کار له لارې د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ چټک کول دي. په ټولیز ډول د سویلي اسیا هېوادونه د اقتصاد له پلوه کمزوري او د اقتصاد اصلي برخه یې کرهنه جوړوي، له بل پلوه دا هم لیدل کېږي، چې په نړۍ کې د اقتصاد اوسنۍ تګلاره د وروسته پاتې هېوادونو په ګټه نه ده. د دې ستونزې اصلي لامل دا دی، چې د شتمنو هېوادونو تر منځ (Protectionism) یا د ساتنې پالیسۍ ورځ په ورځ زیاتېږي. د دغې ستونزې د اوارولو لپاره د سارک غړي هېوادونه غونډې کوي، د ستونزو په لارو چارو غور کوي او هڅه کوي، چې داسې پرېکړې وکړي، چې نه یوازې دوی سره د اقتصاد په چټک پرمختګ کې مرسته وکړي، بلکه د سارک غړو هېوادونو تر منځ اقتصادي واټن هم کم کړي. د سارک هېوادونه په خپل منځ کې د همکارۍ او همغږۍ لمن ورځ په ورځ پراخوي. د دوی ډېرې هڅې د ټکنالوچۍ رواجول، د اقتصادي پرمختګ چټک کول، د معلوماتو خپرول، د ټولنیزو ستونزو له منځه وړل، د نشه یي توکو او ترهګرۍ له منځه وړل دي.




اما په دې ټولو کې، د سارک د پام وړ دنده، د سوداګریزو مرستو او همغږۍ ډېرول دي. د سارک په ټولنه کې د اقتصاد، سوداګرۍ، صادراتو او وارداتو موضوعګانو ته د لومړیتوب په سترګه کتل کېږي.

په دې اساس د سارک سازمان د سارک سازمان د ګاونډیتوب د روابطو په ساتلو، د غړیو هېوادونو د ملي حاکمیت ،ځمکنۍ بشپړتیا ،خپلواکي، یو د بل په کورنیو چارو کې د نه لاس وهنې د دوګونې او څوګونې اقتصادي اړیکو پراختیا، د فقر او وروسته پاتې والي لمنځه وړلو، د سیمه ایزو مناسباتو اوهمکاریو پیاړتیا او د ازادې سوداګرۍ د پراختیا لپاره رامنځته شو.

که څه هم تر ۱۹۹۵ م کال پورې د سارک غړو هېوادونو ترمنځ سوداګري د نړۍ د سوداګرۍ پنځه (۵) سلنه برابره وه، خو بیا هم د سارک له خوا د ساپټا ((SAPTA) منځ ته راتلل د سارک د ټولنې ریښتینی پیل بلل کېږي.

د سارک اهداف د هغه د اساسنامې پر بنسټ په لاندې توګه دي:

1: د سویلي اسیا د اوسېدونکو د ژوند د کچې لوړوالی او د هغوی لپاره د ژوند اسانتیاو برابرول.

2: د اقتصادي ودې ګړندي کول، په سیمه کې ټولنیزې او کلتوري پراختیا او د ټولو وګړو لپاره د دې زمینه برابرول، څو د خپل ټول توان څخه استفاده وکولای شي.

3: د سویلي اسیا د هېوادونو تقویه، پرمختګ، پر ځان باوري او متکي کېدل.

4: د غړیو هېوادونو ترمنځ د مسایلو په هکله هر اړخیزه اعتماد درلودل.

5: په اقصادي، اجتماعي، کلتوري، تخنيکي اوټکنالوژيکي برخو کې دوه اړخيزه مرستي، همکاري او پراختيا.

6:  د مخ پر ودې هېوادونو سره همکاريو ته وده ورکول.

7 : د غړيو هېوادونو ترمنځ د مشترکو ګټو په هکله د همکارۍ پياوړتيا د نړيوالو کنفرانسونو له لارې.

8: د هغو نړيوالو او سيمه ييزو سازمانونو سره همکاري کول، چې ورته موخې تعقيبوي.

د سارک په سازمان کې د غړيتوب شرايط:

د دې سازمان دغړو په توافق دا شرط دی، چې يو هېواد د دې سازمان په کومه برخه کې بايد غړيتوب ترلاسه کړي اوکه نه؟ دوهم، هغه هېواد چې غواړي د دې سازمان غړي شي بايد په سويل  يا سويل ختيځ کې موقيعت ولري.

د سارک ټولني کاري تګلاره:

د سارک ټولنه د ۱۹۸۵ م کال راپدې خوا  هرکال يا هر دوه کاله وروسته غونډه کوي، چې لومړنی ناسته يې د ۱۹۸۵ م کال په پای کې د ډاکا په ښار کې وشوه. دغه غونډه د غړو هېوادونو د مشرانو په راټولېدو د غړو هېوادونو د ښارونو څخه په يو ښار کې کيږي. د سارک ټولنه په خپل تشکيل کې دولس (۱۲) کاري او تخصصي ډلې لري، چې هره يوه يې په خپلو غونډو کی په اړونده راولاړو شويو ستونزو غږيږي او د اوارولو هڅې يې کوي.

د سارک سازمان جوړښت :

۱- اعيانو (مشرانو ) مجلس : د سارک د مشرانو تر منځ ناسته تر ټولو مهم اوعمده رول په غاړه لري،

چې د سازمان اهداف او راتلونکې غونډې د دې مجلس لخوا ټاکل کيږي. د مشرانو جلسه په کال کې يو

ځل دايريږي.



۲- د وزیرانو شورا: دغه شورا د غړیو هېوادونو د بهرنیو چارو له وزیرانو جوړه شوې ده، چې د بیا کتنې او پرمختګ د سیاست د همکاریو د نوې حوزې د جوړېدو د اړتیا په وخت کې د نویو پلانونو پلې کولو په هکله تصمیم نیول او نورې عمده دندې په غاړه لري.

۳- دایمي کمېټه : نوموړې کمېټه د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو د لوړپوړو چارواکو څخه جوړه ده. دغه کمېټه کولای شي په خپل جوړښت کې وړې کاري کمېټې جوړې کړي.

په دې کمېټې کې د دوو څخه تر اوو پورې غړي هېوادونه ګډون کولای شي.

۴- سکرتریت : د سارک سیمه ییز سازمان د 1987 م کال د جون په ۱۶ نېټه د نیپال په پلازمېنه کې رامنځته شو، چې د اجرایوي فعالیتونو سربیره، په غونډو کې د خدماتو سرته رسول او هم د سارک اونورو نړیوالو سازمانونو سره د اړیکو جوړولو مسؤلیت په غاړه لري.

د سکرتریت کلنی بودیجه د غړیو هېوادونو لخوا د یو منل شوي پلان له مخې ترسره کیږي.

د سارک موافقت نامې :-

سافټا (SAFTA) :- د سارک د رامنځته کولو د لومړیو ژمنو څخه وروسته داسې فکر کېده، چې دهغه مقدماتي کارونه تر ۲۰۰۱ م کال پورې پای ته ورسیږي او د سافټا ټرون عملي بڼه غوره کړي، مګر حقیقت دا دی، چې تراوسه د سارک په حوزې کې یو ګډ بازار نه دی رامنځته شوی او د شعار په بڼه پاتې دی. سربیره پر دې، د سافټا په ټرون کې وړاندوینه شوې وه، چې د سارک د حوزې غړي هېوادونه به تر ۲۰۲۰ م کال پورې د اروپا په شان په یو اقتصادي اتحاد بدل شي، مګر د سارک اصلي غړو هېوادونو ترمنځ پرتو ستونزو ته په کتو سره به د دغو موخو ترلاسه کول د تمې څخه لرې وي.

ساپټا (SAPTA):- د 1993م کال په لومړیو کې د سارک غړیو هېوادونو یوه سوداګریزه موافقه ترسره کړه هغوی په ډېر احتیاطي ډول د سارک د سوداګرۍ د ترجیح (ساپټا) ترعنوان لاندې یوې موافقتنامې ته سره ورسېدل خو دغې اتحادیې کوم پرمختګ ونکړ. څرنګه، چې معلومیږي د سوداګرۍ لویه برخه د دې اوو هېوادونو ترمنځ په غیر رسمي او نه ثبتېدونکي ډول تر سره کیږي، د مطالعاتو څخه داسې ښکاري، چې ساپټا(SAARC Preferential Trade Area) ونه شو کړای، چې یو قوي اقتصادي بلاک رامنځته کړي.

د سارک راتلونکې :- سارک د سویلي اسیا د اقتصادي او سوداګریز سازمان په توګه تر اوسه یوه کامیابه تجربه د ځان څخه نه ده ښودلې او شرایطو ته په کتو سره داسې نه ښکاري، چې په نږدې راتلونکو کلونو کې به یو کره تغیر د غړیو هېوادونو ترمنځ په اقتصادي او سوداګریزو مناسباتو کې رامنځته شي. په دې هکله یو غالب شک دا دی، کچیرې هریو د غړیو هېوادونو څخه په خپلو روانو سوداګریزو معاملاتو اوهم د سارک د غړیو څخه پرته د نورو هېوادونو سره په اړیکه کې پاتې شي نو د سارک هغه موخې چې په پام کې یې دي تر لاسه کولای نه شي .

د سارک غړي هېوادونه سره له دې، چې دغه سازمان د خپل ملي اقتصاد او سوداګرۍ د پراختیا لپاره اړین بولي خو په دې باور نه لري، چې د سارک په مټ دې دوی خپلو اړتیاو ته مثبت ځواب ووایې له همدې امله د سارک دغړیو څخه بهر سوداګریزې منطقې ته پاملرنه زیاته شوه.

د سارک غړي هېوادونه د اقتصادي او ترانزيتي خندونو د نفوس زياتوالی، د منابعو، سرمايي، د داخلي اوخارجي ستونزو سره لاس او ګرېوان دي. دغه هېوادونه د څو اړخيزو اقتصادي پراختيا په رابطه بايد وکولای شي، چې دغه همکاري نهادينه کړي اوپه پای کې د نورو سازمانونو په څير د سيمې تولي سياسي ستونزې حل کړي.

سارک د ملګروملتونو او نورو نړيوالو مرسته کونکو سازمانونو سره پراخه همکاري لري.

داسې معلومېږي کچيرې د سارک غړي هېوادونه او کوم هېوادونه چې د سارک د ناظر غړيتوب لري که دوی وغواړي او همکاري وکړي نو کولای شي دا سازمان د سيمې د يو پياوړي اوموثر سازمان په توګه تبديل کړي.

## پای

د سارک ټولنې د پيل څخه شا او خوا (۲۷) کاله تېرېږي، چې په دې ترڅ کې د ټولنې برياليتوبونه او لاسته راوړنې د هيلو څخه ډېرې کمې وې. د دې ټولنې د ناموثريت دليل په تيرو کلونو کې د پاکستان او هندوستان ترمنځ د سياسي اړيکو خرابوالی ګڼل کېږي. ډېر ځله په دغه غونډه کې د سوداګريزو مسايلو پرځای سياسي شخړو او سيمه ايزو نا ارامو بحثونو ته ځای ورکړل شوی، نو په همدې اساس د سارک ټولنه په اقتصادي او سوداګري چارو کې د خنډونو سره مخ ده. د سارک ټولنې ته اوسنی چلنج په سيمه کې د لوږې د له منځه وړل دي او د همدې ستونزې د اوارولو لپاره د سارک غړي هېوادونه خپلمنځي همکاری ته تر هرڅه لمړيتوب ورکوي. د يادولو وړ ده، چې د سارک سازمان غړي هېوادونه ګډې ګټې او ګډې ننګونې لري په دې سيمه کې چيرته، چې د سارک هېوادونه دي ستر فرصتونه شته ځکه، چې په يادو سيمو کې ستره انرژي پرته ده، روزل شوي او په کار پوه ځوانان لري، چې د ښه ځواک خاوندان او ستر نوښتونه يې رامنځته کړي دي، له دې امله ټول دغه هېوادونه بايد په ګډه سره له دغو فرصتونو څخه د خپلو هېوادونو او خپلو خلکو په ګټه کار واخلي.

نوموړي هېوادونه کولای شي، چې د يو بل له تجربو څخه په ګټې اخستنې سره په سيمه کې امنيتي ننګونې له منځه يوسي؛ ځکه د سيمې ثبات په نړۍ کې د امنيت د ټينګښت لاملونه برابر وي او د بشريت د پايښت لامل ګرځي.
د دې سازمان غړي هېوادونه بايد د وروسته پاتې هېوادونو په ځانګړې ډول د افغانستان پر وړاندې د پرتو اقتصادي او سياسي ستونزو په اوارولو کې ډېره همکاري وکړي اوهم بايد زموږ ګاونډي هېوادونه د افغانستان په کورنيو چارو کې د لاس وهنې پر ځای د دې هېواد په امنيت او ثبات کې پراخه ونډه واخلي، ځکه د دې هېواد امنيت د ټولې سيمې په خاصه توګه د ګاونډيو په ګټه دي اوهم د دې هېواد پرمختګ او پر ځان بسيا کېدل د ټولو غړيو هېوادونو د اقتصادي ودې سبب کېدای شي.
زموږ د سيمې پر وړاندې نورې پرتې ننګونې لوږه، بيکاري او د هوا بدلون دی، که چيری په دې اړه ګډ کار و نه کړو، نو له شک پرته، چې زموږ سيمه به د ښې راتلونکې زيرې له ځان سره و نه لري.

مآخذونه :


www.saarc-sec.org

www.thehindu.com

www.wekipedia.com

www.nation.com

www.bhutanobserver.bt

www.cottonbangladesh.com

**وزارت تجارت وصنایع در تلاش به دست آوردن عضویت سازمان تجارت جهانی است**

**دولت افغانستان می خواهد، عضویت سازمان تجارت جهانی را پیش از فرا رسیدن سال 2014 میلادی به دست اورد.**

**محترم مزمل شینواری معین وزارت تجارت وصنایع کشور در ورکشاپ که به مناسبت معرفی سازمان تجارت جهاني یا WTO دایر گردیده بود، گفت هفتم دسامبر سال جاری هیتی متشکل از نماینده گان چهار ده وزارت که وزارت تجارت در رأس ان می باشد، به کشور سویس جهت انجام دور سوم مذاکرات با مسؤلین سازمان تجارت جهانی برای عضویت افغانستان در این سازمان سفر می کنند. در حال حاضر حدود 157 کشور عضویت این سازمان را داشته وسی کشور دیگر نیز به حیث ناظر مشمول این سازمان هستند، که افغانستان نیز جزء کشورهای ناظر این سازمان محسوب میشود.**




**اقای مزمل شینواری گفت : ما سخت درتلاش به دست آوردن عضویت سازمان تجارت جهانی قبل از فرا رسیدن سال 2014 هستیم.)**

**محترم شینواری می افزاید، که با عضویت افغانستان در این سازمان بسیاری از مشکلات تجارتی کشور حل می شود وجذب سرمایه گذاری ها، اشتغال زایی و در نتیجه بهبود اقتصاد از فواید عضویت کشور در این سازمان است.**

**معین وزارت تجارت همچنان می افزاید، که پاکستان عضویت این سازمان را دارد وبا عضویت افغانستان مشکلات ترانزیتی افغانستان وپاکستان نیز حل خواهد شد.**

**محترم شینواری افزایش گمرکات کشور، افزایش تولیدات داخلی وطرح قوانینی در عرصه های تجارت بین المللی، سرمایه گذاری وزراعت را از جمله شروط مهم برای عضویت کشور دراین سازمان بیان کرده ومی گوید، که علاوه بر اینکه بر ارتقای ظرفیت در عرصه های مختلف تلاش می کند، این وزارت مسوده بیست قانونی را در عرصه های مختلف تجارت کشور اماده کرده است.**

**به گفته محترم مزمل شینواری، اگر افغانستان بتواند عضویت سازمان تجارت جهانی را کسب نماید، بسیاری از مشکلات ترانزیتی واز جمله مشکلاتی که با پاکستان دارد، به راحتی حل خواهد شد.**

**همچنان کسب عضویت در این سازمان، ضمن اینکه تولیدات صنعتی داخلی را افزایش خواهد داد، سرمایه گذاران داخلی وخارجی را نیز تشویق خواهد کرد تا در افغانستان سرمایه گذاری کند.**

**معین تجاری افزود اگر یک کشور بوسیله صادرات خود به افغانستان صدمه وارد کند، ما با داشتن عضویت در این سازمان، میتوانیم جلو چنین صادراتی را بگیریم.**

**سازمان تجارتی جهانی که یکصدو پنجاوهفت کشور عضو دارند، یک نهاد بین المللی است، که برای بهبود تجارت ازاد و تشویق کشورها در راستای توقف تعرفه های وارداتی وسایر موانع کار می کند.**

**این سازمان قواعد تجارت بین الملل را نظارت، از موافقتنامه های تجارت ازاد مراقبت و منازعات تجارتی بین دولتها را حل وفصل مینماید.**

**گفتنی است، که پیش از این در 14 دسامبر 2004 درخواست افغانستان مبنی بر شمولیت افغانستان به حیث ناظر در این سازمان، پذیرفته شده بود.**

**مزایای عضویت در سازمان تجارتی جهانی**

**تجربه نظام تجارت چند جانبه که از سوی سازمان تجارت جهانی تنظیم میگردد نشان داده، که تمام کشورهای عضو از مزایای مربوط به این سازمان بهره مند می شوند وهر کشور دستا آورد های دراین زمینه داشته است. عضویت در سازمان تجارت جهانی باعث می شود تا:**

_ مصارف زنده گی کاهش یافته و معیارهای زنده گی بهبود یابد.

_ منازعات حل گردیده ومناقشات تجارتی کاهش یابند.

_ رشد اقتصادی وفرصت های کاری به میان آیند.

_ مصارف مربوط به فعالیت های تجاری در سطح بین المللی کاهش یابد.

_ حکومتداری سالم ترغیب گردد.

_ کشورها رشد وانکشاف نمایند.

_ کشورهای ضعیف فرصت بیان نظریات داشته باشند.

_ محیط زیست وصحت حمایت گردد.

_ صلح وثبات تامین شود.

**مزایای عضویت در سازمان تجارتی جهانی برای افغانستان**

**سازمان تجارت جهانی تلاشهای کشورهای رو به انکشاف مانند افغانستان را، ارج گذاری می نماید واین کشورها را من حیث کشورهای رو به انکشاف یا کشورهای کمتر انکشاف یافته طبقه بندی نموده است. افغانستان دربین کشورهای کمتر انکشاف یافته محسوب می شود. اضافه تر از دو سوم کشورهای عضو سازمان تجارت جهانی از جمله ممالک رو به انکشاف یا کمتر انکشاف یافته اند.**

**بسیاری از این کشورهای بعد از الحاق به سازمان تجارت جهانی، میزان بلند سرمایه گذاری ها وصادرات را شاهد بوده اند. درسال 2007 کشورهای رو به انکشاف ویا کمتر انکشاف یافته شاهد پنج درصد افزایش در سطح شان بودند در حالیکه رشد تجارت کشورهای انکشاف یافته تنها 1.2 در صد بوده است.**

دلیل دیگری که افغانستان باید به سازمان تجارت جهانی ملحق گردد این است، که این کشور محاط به خشکه است. بعد از عضویت در این سازمان، اموال و وسایط نقلیه افغانستان حق انرا خواهند داشت تا بدون کدام موانع یا تاخیر

از طریق مسیر های مناسب در قلمرو سایر کشورهای عضو، ترانزیت نمایند. هیچ گونه فیس غیر موجه ویا اقدام غیر مناسب در برابر تجارت ترانزیتی و وسایط نقلیه افغانستان وضع نخواهد شد. این یک حق تضمین شده است که نظربه قوانین سازمان تجارت جهانی از ان حفاظت وحمایت خواهد شد.

تمام کشورهای همجوار وشرکای عمده تجارت افغانستان عضو این سازمان اند ویا هم خواهان کسب عضویت در این سازمان هستند. پاکستان، هندوستان، چین، ترکیه، قرغزستان، عربستان سعودی و کشورهای خلیج از اعضای سازمان تجارت جهانی به شمار میروند. ایران، ازبکستان، تاجکستان وقزاقستان خواهان عضویت در این سازمان اند. ترکمنستان گامهای مقدماتی رابه منظور ارایه درخواستی کسب عضویت روی دست گرفته اند.

استفاده از قواعد تجارتی _ به جز قواعد شرکای عمده افغانستان، منافع کشور را تامین نخواهد کرد. بنابرآن، برای افغانستان نهایت مهم است تا عضویت این سازمان را حاصل کند، تا باشد، که تجارت بین افغانستان وشرکای تجارتی آن تحت قواعد ومقررات هماهنگ ومنسجم صورت گیرد.

دست آوردهای عمده افغانستان در زمینه کسب عضویت سازمان تجارت جهانی در ذیل خلاصه شده است:

نومبر 2004: دولت جمهوری اسلامی افغانستان جهت الحاق با سازمان تجارت جهانی درخواست خویش را ارایه کرد.

دسمبر 2004 سازمان تجارت جهانی به افغانستان موقف عضویت ناظر را اعطا کرد.

دسمبر 2004 سازمان تجارت جهانی برای افغانستان گروپ کاری ایجاد نمود.

مارچ 2009 دولت جمهوری اسلامی افغانستان یاد داشت پیرامون رژیم تجارت خارجی خویش را به سازمان تجارت جهانی ارایه کرد.

سال 2010: افغانستان پروسه پیشرفت سوی الحاق با سازمان تجارت جهانی را سرعت بخشید. دولت اسلامی افغانستان یک پلان تقنینی اصلاحی را تهیه وکار تهیه پیشنهاد نخست دسترسی بازار برای اموال وخدمات را اغاز کرد.

جنوری 2011 دولت جمهوری اسلامی افغانستان پاسخ ها را به سوالات اعضاء سازمان تجارت جهانی ارایه نمود.

جون 2012 دولت جمهوری اسلامی افغانستان پیشنهاد نخست دسترسی برای اموال را به سازمان تجارت جهانی ارایه کرد.

جون 2012 سازمان تجارت جهانی برای افغانستان جلسۀ دوم گروپ کاری را دایر کرد.

جولای 2012 سازمان تجارت جهانی برای افغانستان جلسۀ نخست گروپ کاری را دایر کرد.

اکتوبر 2012 دولت جمهوری اسلامی افغانستان پاسخ ها را به سوالات سازمان تجارت جهانی ارایه نمود.

**جلسه محو خشونت علیه زن در وزارت تجارت وصنایع دایر گردید**

خشونت نسبت به زنان پدیده جدید نبوده و از پیشینه تاریخي برخوردار است، اما میتوان گفت توجه به ان به عنوان مساله ای اجتماعی مقوله جدید است.

بیستوپنجم نوامبر روز جهانی رفع خشونت علیه زن است. خشونت علیه زنان معضلی است جهان شمول به هنگام جنگ و آوارگی، در خانه و در جامعه.

از ان جا که اشکار است، در دین مقدس اسلام زن ومرد از حیث انساني وتکلیف اجتماعی برابر است، هیچکدام بر دیگری برتري ندارد، هردو مخاطب یاایهاالناس و ایهاالمومنون است.



ونقش مثبت ومنفی زنان را ذکر کرده و حتی زنان را ستوده که درشرایط ناهموار،درجامعه ازحق دفاع کرده است.

در جلسه که به مناسبت محو خشونت علیه زن در وزارت تجارت وصنایع دایر گردیده بود اشتراک کنندگان بر محو هر نوع خشونت علیه زن تاکید کردند.

در اغاز محترم صدرالدین سحر معین اداري ومالی وزارت تجارت وصنایع سخنراني کرده گفت، زنان ومردان درخلقت باهم برابر اند و امتیازی در حقوق ذاتی بریکدیگر ندارند و تفاوت فزیکي به معنی تفاوت حقوقی نیست.

معین صاحب سحر افزود، زنان همانند مردان حق ازادي بیان ، حق ازدواج ،حق زندگی،حق رای دادن

و سایر حقوق را دارند. معین صاحب از افزایش خشونت علیه زن یاد اوری کرده و از همه اقشارجامعه ،مسولین دولتی، علما دین، رسانه ها خواست، تا در محو این پدیده شوم مشترکا مبارزه نمایند.

درین جلسه محترمه حسنیه مخلص ریس هماهنگی وارتباط امور ولایات وزارت زنان بیانیه وزیرصاحبه امور زنان حسن بانو غنضفر را به خوانش گرفت





وزیر صاحبه در بیانیه خود نیز بر محو خشونت علیه زن تاکیدکرده و اگاهی به مردم از طریق رسانه ها را یک نیاز مبرم برای محو این پدیده عنوان کرد.

وزیر صاحبه در بیانیه خود افزوده بود، که وزارت امورزنان در راستای تامین حقوق زنان گام های مهمی برداشته که ازجمله کمپاین ها محو خشونت علیه زن در سراسر کشور برگزار شده و در اینده نیز به راه انداخته خواهد شد.

در اخیر محترمه فایقه کندهاری امره جندر وزارت تجارت وصنایع جایگاه زن را در اسلام توضیح داده گفت : امروز در خانه که پسر تولد میشود همه خوش میشوند و برعکس بر تولد دختر ناخوش درحالیکه دختر رحمت است و پسر نعمت است از نعمت پرسان میشود اما از رحمت نمیشود.

امره جندر درین مورد بعضی از احادیث و داستان های اسلامي را ارایه داشته افزود، با انکه جامعه امروزي مقام زن را نادیده گرفته اما پیامبر اکرم ص چهارده صد سال قبل از امروز فرموده اند، بهشت زیر پای مادران است.

به اساس تازه ترین گزارش ها طی هفت ماه سال ۱۳۹۱ ه ش چهار هزار قضیه خشونت علیه زن در کمیسون مستقل حقوق بشر ثبت شده اند.

وزارت امور زنان میگوید، در شش ماه اول سال روان هجری شمسی بیش از ۳۵۰۰ موارد خشونت علیه زن در مرکز و ولایات کشور ثبت شده است.

د لسیزو جګړو له امله د افغانستان د نهایي محصول تولید بیخ بنسټ له منځه ولاړ، چې اکثره تولید کوونکي یې دې ته اړ کړه، څو نیمه پای ته رسیدلي تولیدات پاکستان ته د نهایي محصول لپاره انتقال کړي غالی د صادراتو لپاره تولید کړی.د دې سکټور د ودې لپاره باید افغانستان د نهایي محصول د تولید وړتیا ولري. په مزار کې د نهایی تولید یوه فابریکه پرانیستل شوې ده خو یوه فابریکه نشي کولای په زیاته پیمانه تولید وکړي څو د ټولني وګړو ته بسنه وکړي، د غالیو سکټور مخې ته بله ننګونه د اومه موادو عرضه ده، د کورني مالوچو (پنبو) او د نورو اومه موادو د سرچینو د خرابوالي له امله په اوسط توګه د دغه سکټور ٪۵۳ اومه مواد واردیږي ( په ځانګړی توګه له پاکستان څخه).

د باکیفیت مناسب او پر وخت موادو (پنبه، تار) موندل، یوه بله ستونزه ګڼل کیږي. د اومو موادو واردول د ټرانسپورټ او ګمرک مصارف له ځانه سره لري، چې پر نهایي قیمت اغیزه کوي، له بلې خوا کیفیت یې هم تر سوال لاندې دی.
د غالیو سوداګر وایي، چې د غالیو انتقال د هوا له لارې یو اقتصادي کار ندی، ځکه هوایي کارګو ځای کم او لګښت یې زیات دی.
د افغانستان تر ٪۹۰ زیاته غالی د پاکستان له لارې نورو مارکېټونو ته صادرېږي، د پاکستان له لارې حمل مصارف اوچت وړي او زیات وخت هم نیسي. د ګمرکاتو کمزورې او بیروکراتیکه اداره د غالیو سوداګرانو، صادرونکو او واردونکو لپاره بله ستونزه او ننګونه ده.

# په افغانستان کی د غالیو صنعت

## په افغانستان کې د غالیو بازار ، ګواښونه او فرصتونه

د غالیو صنعت د افغانستان له دودیزو صنعتونو څخه دی، په هېواد کې د کلونو جګړو سره سره د غالیو اوبدلو مهارت او کاري ځواک اوس هم په افغانستان کې په موثره توګه شته. د غالیو سکټور د هېواد په سوداګرۍ کې یو مهم رول لوبولای شي او د صادراتو زیاتوالي لپاره یو مهم تولید بلل کیږي. د غالیو صنعت د سوداګرو تر څنګ د کلیوالو (په ځانګړې توګه میرمنو) لپاره هم د عاید یوه ښه سرچینه ګڼل کیږي.



افغانستان د باکیفیته لاسي غالیو یو مخکښ هېواد دی. غالۍ د افغانستان د صادراتو تر ټولو لوی رقم ګڼل کیږي، چې په ۲۰۰۵ کال کې ۱۴۰ میلیون ډالرو ته رسیده، د دغه تولید ٪۹۰ پاکستان کې پلورل کیږي، چې بیا د هغه ځای څخه په پرچون او عمده توګه په نړیوال مارکېټونو کې خرڅیږي. د غالیو غیچې کول او پرمینځل تقریبا په بشپړه توګه په پاکستان کې کیږي. د افغاني غالیو د تجارتي نوم پیاوړتیا لپاره اړینه ده، چې غالۍ دننه په افغانستان کې غیچې او پرمینځل شي نه په پاکستان کې، د پاکستان د غالیو صادراتو ٪۶۰ له افغانستان څخه سرچینه اخلي.

که څه هم د دغه سکټور لپار باید زیات کار وشي، د افغانستان د غالیو سکټور ښه فرصتونه لري. افغان غالۍ او منسوجات په نړیواله کچه ښه منظر لري. غالۍ په افغانستان کې یو عنعنوی لاسي تولید ګڼل کېږي، چې شتمن تاریخ او بېلابېل باکیفیته ډیزاینونه هم له ځانه سره لري. افغان لاسي غالیو ته په ترجیحي توګه سره د نړۍ د غالیو غوره واردونکو هېوادونو (د امریکا متحده ایالات او اروپایي اتحادیه) له خوا د ګمرکي محصول د نه اخستنې امتیاز هم ورکړ شوی دی.

افغانستان دا وړتیا لري، چې د یوه غښتلي مارکیټینګ کمپاین سره خپل د غالیو نړیوال منظر پیاوړی کړي او هغه اندېښنې، چې پدې اړه موجودې دي له منځه یوسي او د افغاني غالیو لپاره لېوالتیا زیاته کړي. د دغه صنعت لپاره د اومه موادو لپاره تقاضا زیاته شوې ده او داسې وړاندوینه شوې، چې د اومه موادو تولید به دننه په هېواد کې زیات شي. لکه چې مخکې وویل شوه، اکثره افغاني غالۍ په پاکستان کې غیچې او پریمنځل کېږي. پدې اړه زیاتو مرکو کې داسې ویل شوي، چې اکثره غالۍ اوبدونکي دې ته ترجیح ورکوي، چې که دننه په افغانستان کې د تولید اسانتیاوې وي نو غالۍ به په خپل هېواد کې تولید کړي. که څه هم د غالیو او منسوجاتو صنعت په افغانستان کې عنعنوي او د ټيټې ټکنالوجۍ کار دی، دغه سکټور اوس کولای شي، چې د نوي ماشینونو څخه خپل د تولیداتو کمیت او پلورل اوچت یوسي. د بېلګې په توګه د انترنټ څخه په ګټې اخستنې سره کولای شي، چې مارکېټینګ او پلورلو ته وده ورکولای شي. د کمپیوټر د CAD پروګرام په مرسته کولای شي چې بېلابېلې طرحې په مؤثره توګه جوړې کړي.

## ښځینه سوداګري د ودې په حال کې

د سوداګرۍ په بېلابېلو برخو کې افغان سوداګرو ښځو د شپږ میلیونو ډالرو په ارزښت پانګه اچونه کړې. په هېواد کې له پانګې اچونې څخه د ملاتړ اداره (آیسا) د میرمنو د سوداګرۍ د پراختیا په هکله وایي، چې د شپږ ملیونو ډالرو په ارزښت، د میرمنو له خوا پانګه اچول شوې او شرکتونه جوړ شوي، څه باندې پنځه سوه میرمنې په هغو کمپنیو کې برخه لري او په رهبري پلاوي کې شاملې دي، چې له دغې ادارې سره ثبت دي. دغو سوداګرو میرمنو په خپلو هڅو سره هم د خپلو کورنیو او هم د دې هېواد په اقتصادي وده کې مهم رول لوبولای دی. په افغانستان کې له پانګې اچونې څخه د ملاتړ اداره وایي، په پام کې لري، چې سوداګرو میرمنو ته د روزنیزو پروګرامونو د عملي کولو تر څنګ په کابل او ولایتونو کې د سوداګرو میرمنو د لاسي صنایعو نندارتونونه هم پرانیزي.



په عین حال کې د ښځو چارو وزارت هم په سوداګریزه برخه کې د دې ډول روزنیزو پروګرامونو د عملي کولو هرکلی کوي او وایي، چې سوداګرې میرمنې جدي مرستو ته اړتیا لري. کله چې لس کاله پخوا میرمنو په بېلابېلو ټولنیزو چاروکې په کار پیل وکړ، د میرمنو د سوداګرۍ چارې یو څه کمزورې او کمرنګه وې، خو د وخت په تېرېدو سره دغه چارې پرمختللې او ګړندۍ شوې او په دې برخه کې زیات شمېر نورو میرمنو هم لېوالتیا پیدا کړه او دغې چارې ته یې مخه کړه، سوداګرو میرمنو په بېلابېلو تولیدي برخو لکه: لاسي صنایع، دغالیو اوبدل، د چرګانو روزل، زراعت، مالداري، ماهي روزل او داسې نورو کې یې پانګه اچونه



چې د دغو ټولو د ښه سمبالښت په مقصد اوس د سوداګرو میرمنو فدراسیون ترعنوان لاندې یوه ټولنه هم فعالیت لري، چې پکې د ځینو مخکښو میرمنو په زیار او زحمت افغانې کسبه کارې ښځې راغونډې شوې دي. دغه فدراسیون چې د ټول هېواد په کچه شاوخوا ۳۲ زره غړي لري، په بیلا بیلو لاسي صنایعو کې کار کوي. سر بیره پر دغو ټولو پرمختګونو یو شمیر ستونزې او ننګونې هم وجود لري، چې د سوداګرو میرمنو فدراسیون انتقاد ترې سر ټکوي او وایي، چې مرسته کوونکو ادارو ورسره اساسي مرستې نه دي کړې او د دوی لاسي صنایعو ته يې بازار نه دی پیدا کړی. د دې تر څنګ د دغه فدراسیون یو شمیر غړې شکایت کوي، چې میرمنې په خواریو لاسي صنایع جوړوي، خو ډېره ګټه يې نورو ته رسیږي او دغو تولیداتو ته میرمنې بازار نلري. په تېرو څو کالونو کې د افغان دولت او نړیوالې ټولنې د هلوځلو په ترڅ کې افغانو میرمنو ته په سیاسي، اقتصادي او نورو برخو کې د ودې زمینه مساعده شوې ده، خو یو شمیر میرمنې انتقاد کوي، چې اکثره اسانتیاوې په ښارونو کې رامنځ ته شوې او د کلیوالو میرمنو په ژوند کې تراوسه پورې کوم ژور بدلون نه دی راغلی. نو ویلای شو، چې میرمنې کولای شي د ټولنې په ټولو برخو کې په پوره ورتیا ونډه واخلي او د ډېرو ستونزو له ګاللو سره، سره بیا هم خپلو هڅو ته دوام ورکړي، خو له دوی سره د مرستې په خاطر باید اړوند چارواکي او نور بنسټونه پاملرنه وکړي.

څکه تر اوسه چې کوم نندارتونونه په هېواد او بهرنیو هیوادونو کې په لاره اچول شوي د افغان میرمنو لاسي صنایع او تولیدات پکې په نړیواله کچه ډېر ښه ځلیدلي، نو په کار ده، چې د ملي او کورنیو تولیداتو په لا پراختیا کې هڅه وشي چې ویاړ يې په ټولو پورې تړلی دی. انتقاد کوونکې وایي، چې د دې ستونزې د هواري لپاره دولت او خلکو ته په ګډه د کار کولو اړتیا ده. هغه ستونزې، چې سوداګرې میرمنې ورسره لاس او ګرېوان دي : په بهرنیو نندارتونونو کې د لګښت د بودجې کموالی، د لوازمو نه لرل، لوړ ټکسونه، د دولتي ارګانونو لږه پاملرنه، د پورونو په لاس نه ورتګ او داسې نور هغه څه دي، چې ښځینه سوداګرو فعالیتونه يې ټکني کړي دي. سوداګرې میرمنې له دولتي او غیردولتي بانکونو هم هیله لري، چې دوی ته یوه اندازه پورونه ورکړي څو، لاسي او داسې نورو صنایعو تولیدات زیات کړي.

بازار ازاد میتواند حل مشکلات جوامع دیموکراتیک باشد.



**بازار آزاد کلمه است که به طور خلاصه تبادلات انجام شده در یک جامعه را توصیف می‌کند. هر تبادله در شرایط یک توافق دوجانبه و درعین حال داوطلبانه میان دو فرد یا دو گروه انجام می‌شود. این دو فرد یا گروه اموال یا خدمات اقتصادی را تبادله می‌کنند، برای مثال زمانی که شما کتاب را از کتاب فروشی به قیمت 100 افغانی می‌خرید، شما و فروشنده دو چیز را تبادله کرده‌اید. 100 افغانی داده‌اید و فروشنده، کتاب را به شما داده است یا اگر شما برای یک نهاد کار میکنید نیروی کار و تخصص کاری تان را به او داده اید و در عوض از نهاد مربوط معاش دریافت می کنید.هر دو طرف انتظار دارند که از انجام تبادله منفعت کسب کنند و هر دو نیز انتظار دارند که در آینده بتوانند تبادله را تکرار کرده یا بر هم زنند چرا که ممکن است انتظارات آنان برآورده شده یا نشده باشد. تبادله یا تجارت تنها به دلیل اینکه هر دو طرف سود می‌برند انجام میشود. اگر آنها انتظار کسب منفعت از انجام تبادله را نداشتند با انجام آن موافقت نمیکردند.**

**این دلیل ساده، بحث تجارت آزاد مرکانتیلیست‌های قرن شانزدهم اروپا را رد میکند. مرکانتیلیست‌ها معتقد بودند، که در هر تجارت و تبادله تنها یکی از طرفین، آن هم به زیان دیگری میتواند منفعت کسب کند. به عبارت دیگر هر تبادله یک برنده ( استثمارگر) و یک بازنده ( استثمار شونده) دارد. به راحتی میتوان مغالطه این استدلال را درک کرد. تمایل و اشتیاق طرفین برای انجام تبادله به معنای این است که هر دو از انجام آن منفعت کسب میکنند. در تیوری بازی‌ها نیز وضعیت برد. بردن یا باختن با جمع مثبت نیز مد نظر قرار گرفته که گویای همین واقعیت است.**

**اما باید دید چگونه هر دو طرف تبادله منفعت کسب می‌کنند؟ هر فرد به طور جداگانه و در عین حال متفاوت اموال یا خدمات مورد تبادله را ارزشگذاری و چشم‌انداز متفاوتی از انجام تبادله در ذهن خود دارد. دو عامل مهم توافق لازم برای انجام تبادله را تعیین میکنند، اول اینکه هر یک از طرفین مال ویا شی را چگونه قیمت گذاری میکنند و دوم مهارت‌های چنه زنی هر یک از آنها، بطوری مثال چند افغانی برای تبادله یک کتاب باید پرداخت شود. واژه تبادله، قیمت را تعیین میکند، که این قیمت سرانجام از طریق اینکه چه تعداد کتاب در بازار موجود است و خریداران چگونه این کتاب ها را قیمت گذاری میکنند تعیین میشود، به عبارت دیگر قیمت توسط عرضه و تقاضا تعیین میشود. باالفرض یک عرضه مشخص برای یک شی در صورتی که ارزش ذهنی این کالا نزد خریداران افزایش یابد تقاضا**

برای این شی افزایش خواهد یافت در نتیجه پول بیشتری برای خرید آن پرداخت خواهد شد و قیمت شی افزایش خواهد یافت و برعکس. پس بازار یک آرایش ساده نیست بلکه نشان دهنده یک شبکه پیچیده از تبادلات است، در جوامع اولیه تبادلات به صورت مستقیم صورت میگرفت، دو فرد دو شی مورد نیاز خود را به صورت مستقیم داد و ستد میکردند، مانند لوبیا در مقابل گندم ، اما همگام با توسعه مرحله به مرحله جوامع و بازارها امکان تبادله غیر مستقیم نیز در میان افراد فراهم و به این ترتیب پول ایجاد شد پول انجام تبادلات را آسان تر ساخت و اجازه داد که در مقابل نیروی کار یک کارگر به او صرفآ از اموال تولیدی پرداخت نشود.

بازارهای فعلی آنهم به صورت شبکه‌های گسترده با استفاده از پول در دسترس همگان قرار دارند. هر فردی در زمینه تولید یک شی متخصص و بهترین است و به راحتی میتواند مال خود را در سرتاسر جهان به فروش برساند و این همان سیستم بازار آزاد است، که این امر را امکان پذیر میسازد. بازار آزاد همچنین به تجاران اجازه میدهد، تا سرمایه خود را به منظور کسب منفعت در سراسر جهان به کار بندازند و وارد تجارت آزاد شوند. از این طریق پس‌انداز کنند و پس‌انداز و سرمایه‌گذاری آنها باعث توسعه اموال و سرمایه‌ای شده و بهره برداری ومعاش کارگران را افزایش دهد، بنابراین وضیعت زندگی کارگران نیز بالا میرود، این بازار آزاد رقابتی نوآوری‌های تکنولوژیک را نیز تحریک میکند که این امر به نوآوران اجازه میدهد، تا با استفاده از روش‌های جدید رضایت خاطر مستهلکین را افزایش دهند.



نظام بازار آزاد باعث افزایش تولید میشود و استثمار در بازار آزاد اتفاق نمی افتد. بازار آزاد زمینه لازم را برای حضور تجاران فراهم میکند و هیچ مبادله‌ای به صورت اجباری صورت نخواهد گرفت.

در این حال نه تنها سرمایه گذاری افزایش میابد بلکه سیستم قیمت‌ها، انگیزه‌های بازاری برای کسب سود و زیان و تولید نیز در مسیرهای مناسبی قرار میگیرند. این شبکه پیچیده میتواند همه بازارهای جهان را به هم مرتبط سازد. اما روتبارد (Murrat Rothbard) اقتصاد دان مکتب اتریشی می گوید «تبادلات لزومآ به صورت آزادانه انجام نمیشوند. بسیاری از آنها نه تنها اختیاری و داوطلبانه نبوده بلکه اجباری هستند. اگر یک دزد شما را مجبور به دادن پول به او کند، پولی که شما به وی میدهید بلکه گویا يك تبادله اجباری است و نه داوطلبانه، بنابراین او به مصرف شما سود خواهد کرد؟ و این دزدی است نه پروسه ی در بازار آزاد و در واقع همان چیزی است که مرکانتیلیست‌ها میگویند. به طوری مثال همانگونه که داگلاس نورث میگوید اگر چارچوب نهادی حاکم بر جامعه به دزدی امتیاز دهد، در این صورت هیچ کس به دنبال ایجاد سازمان‌های مجاز برای انجام فعالیت‌های خود آن‌هم از طریق بازار نخواهد بود و در مقابل، اگر چارچوب نهادی به فعالیت‌های تجاری امتیاز دهد، سپس سازمان‌هایی به وجود خواهند آمد که فعالیت‌های مولد را به کار خواهند گرفت» در این صورت هرگز نهادهای لازم برای بازار به وجود نخواهد آمد.

**چنانکه مشخص است نظام بازار آزاد باعث افزایش تولید میشود و استثمار در بازار آزاد اتفاق نمیافتد. بازار آزاد زمینه لازم برای حضور سرمایه داران را فراهم می‌کند و هیچ تبادله به صورت اجباری انجام نخواهد گرفت. اما باید دید تبادله اجباری در کجا صورت میگیرد؟ این اجبار در بلند مدت منجر به کاهش سرمایه‌گذاری، بهره‌برداری و در**

**نهایت تولید کل اقتصاد خواهد شد و به عبارتی یک بازی با جمع منفی به وجود خواهد آمد و تنها شاید برای مجبورکننده منفعت به بار بیاورد.**

